afghanistan
justice
archive



**اوومه ماده:**

(۱) د مالیې وزارت مکلف دی، د هغو کارمندانو د تقاعد ونده چې له فتحې څخه وروسته د ۱٤٤٥/۹/۲۱ هـ.ق نېټې د (۴۸۰۲) گڼې حکم تر صدور پورې د هغوی د تقاعد په حساب کې جمع شوې ده، د اړوندو بودجوي واحدونو له لارې، هغوی ته اجراء کړي.

(۲) غیر بودجوي واحدونه (لکه ښاروالی) مکلف دي، د اړوندو هغو کارمندانو د تقاعد ونده چې له فتحې څخه وروسته د ۱٤٤٥/۹/۲۱ هـ.ق نېټې د (۴۸۰۲) گڼې حکم تر صدور پورې د هغوی د تقاعد په حساب کې جمع شوې ده، هغوی ته اجراء کړي.

(۳) د مالیې وزارت مکلف دی، د وزارتونو او امارتي ادارو د برحاله د هغو کارمندانو د تقاعد ونده چې د ۱٤٤٥/۹/۲۱ هـ.ق نېټې د (۴۸۰۲) گڼې حکم تر صدور پورې د هغوی د تقاعد په حساب کې جمع شوې ده، د تعامل پراساس د اړوندو بودجوي واحدونو له لارې، هغوی ته اجراء کړي.

(۴) غیر بودجوي واحدونه (لکه ښاروالی) مکلف دي، د اړوندو هغو برحاله کارمندانو د تقاعد ونده چې د ۱٤٤٥/۹/۲۱ هـ.ق نېټې د (۴۸۰۲) گڼې حکم تر صدور پورې د هغوی د تقاعد په حساب کې جمع شوې ده، د اړوند تعامل پراساس، هغوی ته اجراء کړي.

(۵) د دې مادې د (۱، ۲، ۳ و ٤) فقرو په درج شوو حالتونو کې، د محکمې حکم ته ضرورت نشته.

**اتمه ماده:**

دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

**امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث**

**مولوي هبة الله اخندزاده**

۲ جمادی الثانیة ۱۴۴۶ هـ ق

(۸) وزارت یا اړونده اداره مکلفه ده، د تقاعد د حقوقو د اختصاصي محکمې د غوښتنې پر اساس، د متقاعد شخص د کاري سوابقو او د هغه د تقاعد په برخه کې، یادي محکمې ته اړوند معلومات له تصدیق شویو سندونو سره یو ځای، رسماً ولیږي. او د تقاعد د حقوقو اختصاصي محکمه دي د دغو اسنادو مطابق شرعي حکم صادر کړي.

**دریمه ماده:**

(۱) که د تقاعد د حقوقو مدعي د متقاعد شخص وکیل وي، مکلف دی شرعي وکالت خط د اصولو سره سم ترتیب کړي.

(۲) که د تقاعد د حقوقو مدعي د متقاعد وارث وي، مکلف دی د اصولو سره سم حصر وراثت وثیقه ترتیب کړي.

**څلورمه ماده:**

(۱) که متقاعد شخص د غیربودجوي واحد (لکه ښاروالی) کارکوونکی وي، په دې صورت کې متقاعد دي د تقاعد د حقوقو اختصاصي محکمې ته په اړونده اداره عارض شي.

(۲) که متقاعد شخص د غیربودجوي واحد (لکه ښاروالی) کارکوونکی وي، د دې فرمان د دوهمې مادې د (۱، ۲، ۳، ۴، ۵)فقرو حکمونه د هغه په هکله هم د تطبیق وړ دي.

(۳) د تقاعد د حقوقو اختصاصي محکمه، د غیر بودجوي واحد (لکه ښاروالی) د متقاعد شخص عریضې ته د رسیدگۍ پر مهال، غیر بودجوي واحد (لکه ښاروالی) څخه د موضوع په اړه استازی وغواړي او د دې فرمان د دوهمې مادې په (۵، ۶، ۷) فقرو کې له درج شویو حکمونو سره سم دي اجراءآت وکړي.

(۴) اړونده اداره مکلفه ده، د تقاعد د حقوقو د اختصاصي محکمې له غوښتنې سره سم، خپل باصلاحیته استازی یادې محکمې ته وروپېژني.

(۵) کله چې مدعي (متقاعد) خپل د متباقي ونډې اسناد د تقاعد د حقوقو اختصاصي محکمې ته وړاندې کړي. یاده محکمه مکلفه ده چې د عارض د اسنادو تصدیق له هغه غیر بودجوي ادارې څخه رسماً وغواړي چې عارض شخص ورڅخه متقاعد شوی دی.

(٦) غیر بودجوي اداره مکلفه ده، د تقاعد د حقوقو د اختصاصي محکمې د غوښتنې پراساس، د متقاعد شخص د کاري سوابقو او د هغه د تقاعد په برخه کې، یادې محکمې ته اړوند معلومات له تصدیق شویو سندونو سره یو ځای، رسماً ولیږي. او د تقاعد د حقوقو اختصاصي محکمه دي د دغو اسنادو مطابق حکم صادر کړي.

**پنځمه ماده:**

(۱) د تشکیلاتو او معاشاتو د تنظیم کمیسون مکلف دی، پر عمومي بودجه باندې د فشار له واردولو څخه د مخنیوي په موخه، د متقاعدینو د تقاعد د حقوقو د اجراء کولو په منظور، مهال وېش ترتیب کړي.

(۲) د تقاعد د حقوقو اختصاصي محکمه د تشکیلاتو او معاشاتو د تنظیم کمیسیون لهخوا د ترتیب شوي مهال وېش پر اساس دي، په اړوندو قضیو کې خپل حکم صادر کړي.

**شپږمه ماده:**

د دې فرمان په لومړۍ، دوهمه، دریمه او څلورمه ماده کې درج شوي حکمونه د هغو متقاعدینو په هکله د تطبیق وړ دي چې له فتحې څخه مخکې متقاعد شوي دي.

afghanistan justice archive

DEC2.12.11.2024

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله ربّ العٰلمين والصّلوٰة والسّلام علٰى سيّد المُرسلين و علٰى آله و أصحابه أجمعين.

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د دفتر ریاست
احکامو او فرامینو د ثبت آمریت

ګڼه: ۱۲

نېټه: ۱۴۴۶/۶/۹هـ ق

## د تقاعد د حقوقو په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالى

# فرمان

د وزارتونو او امارتي ادارو د متقاعدينو او د برحاله کارمندانو د تقاعد د حقوقو د اجراء کولو په هکله چې د هغوی له معاش څخه د تقاعد حقوق وضع شوي دي، لاندې مراتب منظوروم:

**لومړۍ ماده:**

ستره محکمه مکلفه ده، په مرکز کې په خپلو اړوندو تشکيلاتو کې، د ضرورت او د اړوندو قضيو تراکم ته په کتو سره، د تقاعد د حقوقو اختصاصي محکمې جوړې کړي ترڅو يادې محکمې د شريعت په رڼا کې يادې حقوقي قضيې حل کړي.

**دوهمه ماده:**

(۱) د وزارتونو او امارتي ادارو متقاعدين کولای شي، د خپل تقاعد د حقوقو د اثبات لپاره، د تقاعد د حقوقو اختصاصي محکمې ته عارض شي.

(۲) د وزارتونو او امارتي ادارو متقاعدين مکلف دي، د خپلو عريضو مضمون د اداري اصولنامې د (۳۳) مادې سره سم ترتيب کړي.محکمه به ياده عريضه د صورت دعوې په څای ثبت او درج کړي.

(۳) د تقاعد د حقوقو اختصاصي محکمه دې د عارض عريضه د صورت دعوې په څای ثبت او درج کړي.

(٤) د تقاعد د حقوقو اختصاصي محکمه دې د عارض عريضه د ماليې وزارت استازي ته عرض او د موضوع په برخه کې له هغه څخه ځواب وغواړي چې دغه ځواب به دفع د دعوې شي. البته په دې خاصه موضوع کې د نماينده ځواب بالاقرار د اعتبار وړ نه دی.

(٥) د ماليې وزارت مکلف دی، د تقاعد د حقوقو د اختصاصي محکمې له غوښتنې سره سم، خپل باصلاحيته استازی يادې محکمې ته ورولېږي.

(٦) د تقاعد د حقوقو اختصاصي محکمه دې د عارض عريضه له بررسي او د مدعی عليه (ماليه وزارت) له ځواب څخه وروسته په وارده کې ثبت او قيد کړي او له مدعي (متقاعد) څخه دې د دلائلو غوښتنه وکړي.

(۷) کله چې مدعي (متقاعد) خپل د متباقي ونډې اسناد د تقاعد د حقوقو اختصاصي محکمې ته وړاندې کړي. ياده محکمه مکلفه ده چې د عارض د اسنادو تصديق له هغه وزارت يا ادارې څخه رسماً وغواړي چې عارض شخص ورڅخه متقاعد شوی دی.